دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او ای انسانه! ته نه ګوری چې الله پاک د ځمکې ټول څیزونه درته تابع کړي. او هغه کښتۍ هم چې د الله په حکم په بحر کې چلېږي. او اسمان يې ټينګ نيولی چې دهغه له اجازې پرته په ځمکه رانپريوزي بې له شکه الله پاک په خلکو ډېر مهربان او ډېر رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چې تاسې يې ژوندي کړی بيا مو مړه کوي او بيا مو بيرته راژوندي کوي. رښتيا هم چې انسان ډېر ناشکره دی. (سورة الحج: ٦٥ - ٦٦ آیتونه)

درس حدیث

از ابوسعید الخدری رضی الله عنه روایت شده که گفت: از رسول الله صلی الله علیه وسلم شنیدم که می فرمود: هرگاه کسی از شما کار بدی را دید باید آنرا بدست خویش تغییر دهد، اگر نتوانست بزبان خود آنرا منع کند و اگر نتوانست بدل خود از آن بد ببرد و این ضعیف ترین مرحلهء ایمان است. (الحدیث)

شهادت شپږم کال، ۳۰ مه ګڼه، پرله پسې ۲۷۴ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د لړم ۲ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د محرم الحرام ۴ مه د۲۰۱۴ م د اکتوبر ۲۸ مه

ولسمشر غني:

له هغو ساختماني شرکتونو سره چې قراردادونه پلوري، جدي چلند کېږي

"ساختماني سکتور د هېواد لپاره حیاتي دی او په افغانستان کې د ساختماني سکتور اساسي ستونزې دا دي، چې ودانۍ د معیار له مخې نه دي جوړې شوې."

کابل، رسنۍ:
"ساختماني سکتور د هېواد لپاره حیاتي دی او په افغانستان کې د ساختماني سکتور اساسي ستونزې دا دي، چې ودانۍ د معیار له مخې نه دي جوړې شوې."

دغه خرګندونې ولسمشر ډاکټر اشرف غني احمدزي، د دولتي او خصوصي ساختماني شرکتونو له چارواکو سره، د دوشنبې په ورځ په کته کې په ډاګه کړې دي.

ولسمشر د شرکتونو چارواکو ته په خطاب کې وویل: "ظرفیت مو باید تثبیت شي، ترڅو له تاسو سره د اوږدمهالو همکاریو چوکاټ رامنځته کړو، باید یو واضح او شفاف شراکت رامنځته شي او تر معیاري خارجي لاندې ونیول شي."

ده زیاته کړه، د انجنیرانو ټولنه باید په انجنیري معیارونو جوړه شي او دا تشخیص شي، چې... (۴ مخ)

داکتر عبدالله عبدالله:

موثریت فعالیت های مشاورین خارجی باید مورد بررسی قرار گیرد

کابل، رسانه ها:
رییس اجراییه حکومت افغانستان می گوید ظرفیت ها باید در نهاد های داخلی ارتقا داده شوند تا این کشور همواره محتاج کار ظرفیت های بیرونی نباشد.

داکتر عبدالله عبدالله روز دوشنبه در آغاز نشست کابینه در کابل ارزیابی موثریت موجودیت مشاورین خارجی و کمک آنها برای ایجاد ظرفیت سازی در کشور را مهم خواند.

آقای عبدالله گفت، در کنار مصارف که برای... (ص، ۴)

بدخشان کې ۱۷ پولیس لادرکه شوي

بي بي سي:
بدخشان ولایت کې سیمه ییز چارواکي وايي، وسله والو طالبانو تېره ورځ دغه سیمه کې د پوله ساتو ځواکونو او پولیسو پر یو شمېر پوستو بریدونه کړي دي.

د بدخشان پولیسو ویاند لعل محمد احمدزي بي بي سي ته وویل، چې دغه پېښه د وردوج ولسوالۍ په صوفیانو کلي کې رامنځته شوې ده او دغو بریدونو کې څلور پولیس وژل شوي دي. په کابل کې د کورنیو چارو وزارت ویاند صدیق صدیقي په یوه خبري غونډه کې وویل، چې د دغه برید وروسته ۱۷ پولیس لادرکه شوي دي.

ښاغلي صدیقي وايي، د برید وروسته مرستندویه ځواکونه سیمې ته استول شوي او د لادرکه شویو... (۴ مخ)

امریکا او متحدین یې باید د امنیتي سند له مخې د افغانستان امنیت او ثبات ته متعهد وي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د ولسي جرګې اداري پلاوی وايي؛ له دوو ورځو راهيسې له امریکا سره د امنیتي او دفاعي سند د متن په اړه د دې جرګې د نړیوالو اړیکو په کمیسیون کې بحث روان دی.

د ولسي جرګې منشي انجنیر سید اکرام د دوشنبې په ورځ په کابل کې خبریالانو ته وویل؛ افغانانو له امریکا سره د یاد سند تر لاسلیک وروسته د هیواد د امنیتي وضعیت د ښه والي په تمه دي.

نوموړي وویل، امریکا او متحدین یې باید له افغانستان سره د امنیتي او دفاعي سند په اساس کړې ژمنې عملي او په دغه هیواد کې د سولې او امنیت د ټینګښت هڅه وکړي:

"د افغانستان په اکثر سیمو کې امنیتي ستونزې موجودې دي. په عین حال کې له ګاونډیو هیوادونو د افغانستان په یو شمیر ولایتونو باندې راکټي بریدونو لګیږي. امریکا متحده ایالاتونه باید د افغانستان هغه ګاونډي هیوادونه چې دې هیواد ته امنیتي ستونزې پیدا کوي ډېر فشار راوړي؛ څو له دې کاره لاس واخلي. هغه څه چې په امنیتي او دفاعي سند کې راغلي باید امریکا... (۴ مخ)

باز هم غوغا بر سر کارکرد کمیسیونهای انتخابات و رسیدگی به شکایات

فدامحمد فایض

حقیقت آن است که انتقاد در مورد نحوهٔ کارکرد کمیسیون انتخابات و رسیدگی به شکایات از بدو تأسیس این کمیسیونها وجود دارد که دامن این کمیسیون ها هیچگاه از تقلب و تخلف پاک شناخته نشد. البته قبل از انتخابات ۲۰۱۴ (۱۳۹۳) در کمیسیون رسیدگی به شکایات دو نفر از اتباع خارجی هم حضور داشتند که این افراد، افراد عادی نبودند و طبعاً به دیکتهٔ امریکا و ناتو در پروسهٔ انتخابات مداخله میکردند. گرچه انتخابات ۲۰۰۴ سرو صدای زیادی نداشت؛ اما انتخابات ۲۰۰۹ سرو صداهای زیادی را به همراه داشت که گویا تقلب و تخلف صورت گرفته است. نتیجه آن شد که انتخابات به دور دوم رفت و طبیعی است که برای تطبیق مهندسیها باید انتخابات به دور دوم کشانیده شود. در انتخابات ۲۰۰۹ جان کری وزیر خارجهٔ کنونی امریکا و سناتور آن وقت مداخله کرد، حامد کرزی را راضی ساخت که بپذیرد که او پنجاه جمع یک کل آرا را بدست نیاورده است، و دکتور عبدالله عبدالله را که باید به دور دوم انتخابات میرفت نیز بنحوی از رفتن به دور دوم... (ص، ۳)

اهوار، د فرعون پر پله

محمد خلیل

THE AFGHANISTAN
XPRESS
Daily
THE VOICE OF A MORE HOPEFUL GENERATION

د اکتوبر په پنځلسمه افغانستان اکسپرس ورځپاڼه د «د طالبانو او داعش اسلام» تر عنوان لاندې یو مضمون خپور کړی، په دې مضمون کې چې هغه د الله تعالی په اړه څه لیکلي دي هغه ډېر احمقانه، زړه بوګنوونکي او غموونکی دي. هغه پخپل مضمون کې خدای جل جلاله داسې ښکاره کړی چې نعوذ بالله کنې جنګونو ته همغه جل جلاله لاره خلاصه کړې ده او همغه (جل جلاله) خلک دېته هڅوي، ... (۳ مخ)

نګرانی ها در مورد استخراج غیر قانونی معادن ذغال سنگ در افغانستان

کابل، رسانه ها:
استخراج غیر قانونی معادن ذغال سنگ و قاچاق آن به خارج از کشور از جمله موضوعات بوده که همواره سبب تشویش مردم افغانستان شده است.

به تازه گی همین مساله با عکس العمل دیده بان شفافیت افغانستان روبرو شده است.

مجاهد سنگریار مسوول پروگرام های دیده بان شفافیت افغانستان به رادیوآزادی گفت که درحال حاضر برخی از معادن ذغال سنگ افغانستان دربسیاری ازولایات کشور توسط مردم محل و زورمندان به طور... (ص، ۴)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

اسلامي امت ته د حسیني عاشورا پیغام

دا دی د ۱۴۳۶ هجري قمري کال را دبره شو، ددې کال د همدې لومړی میاشتې (محرم الحرام) لسمه نېټه د عاشورا د ورځې سره برابره ده. په دې ورځ د اسلام په تاریخ کې ډېرې پېښې شوي دي، د بېلګې په توګه د حضرت آدم (ع) توبه په همدې ورځ الله جل جلاله ته منظور شوې، د حضرت نوح (ع) کښتۍ په همدی ورځ له طوفانه بچ شوې، حضرت ابراهیم (ع) په همدی ورځ د نمرود له اوره بچ شوی، حضرت موسی (ع) په همدی ورځ د فرعون له شره نجات موندلی، حضرت عیسی (ع) په همدی ورځ له خپلو شریرو دښمنانو نه نجات موندلی او بالاخره د کربلا خونړۍ پېښه هم په همدې ورځ واقع شوې؛ خو دې پېښې داسې اغیز پرځای پرېښود چې دا ورځ په عامه ذهنیت کې د کربلا له پېښې سره وتړل شوه.

که څه هم زیاتره علما له هغې جملې نه امام الهند مولانا ابوالکلام ازاد لیکي چې په دې اړه زیاتره خبرې د ابهام په هاله کې پټې دي؛ او زیاتره خبرې د کیسو حیثیت لري؛ خو له دې سره سره هم امام چې د کوم هدف له پاره قرباني ورکړه هغه روښانه دی او هغه دا چې:

سر داد، نداد دست در دست یزید

ټول مؤرخین په دې عقیده دي چې یزید د خلافت وړ سړی نه و، همدا یزید و چې دهغه په منځته راتګ سره خلافت په ملوکیت بدل شو، یزید د اسلام ډېر زرین اصول شاته پرېښودل. د مورخینو په وینا چې د امام حسن (رض) په شهادت کې هم دهغه لاس و هغه د امام حسن میرمن دې ته وهڅوله چې امام په زهرو شهید کړي او بیا به یې دی په نکاح کړي، هغې دا کار وکړ؛ خو وروسته یې چې یزید ته پیغام واستاوه هغه په ځواب کې ورته ویل چې ته ما د امام حسن وړ نه بللې څه لا دا چې زه دې نکاح کړم او بله له جنایته ډکه پېښه همدغه د کربلا خونړۍ پېښه وه، که څه هم هغه چې د کربلا له پیښی خبر شو؛ نو عبیدالله بن زیاد ته یې ښیرې وکړې چې د مرجانې په زوی دی مور بوره شي؛ خو هغه ابن زیاد ته هېڅ ډول جزا ور نه کړه او له خپلی دندې (د کوفی له ولایت) نه یې هم عزل نه کړ.

اوس خو د کربلا پېښه یوه داسې پېښه ده چې د مولانا ابوالکلام ازاد په وینا به یې تر قیامته پورې اهمیت پرځای وي او هر کال چې د عاشورا ورځ را رسېږي په اسلامي امت به په یو ډول دهغې اثرات او تأثرات موجود وي؛ خو مهمه خبره داده چې امام د حق له سنګره د دفاع په خاطر د یزید خلافت ونه مانه. که امام د یزید خلافت منلی وای؛ نو اوس به هر چاته دا دلیل په لاس ورته چې د یزید وزمه مشرانو قیادت ته غاړه کښېږدي.

؛ نو راځئ اوس په دې لږ غور وکړو چې موږ باید له حسیني عاشورا نه کوم درس واخلو؛ ځکه د عاشورا د ورځې نمانځل باید په همدې کې خلاصه نه شي چې د حضرت امام په شهادت فقط څو څاڅکي اوښکې تویې کړو؛ ځکه په اسلام کې خو تر درې ورځو وراخوا د ویر او ماتم جواز هم نشته؛ نو په دې اړه هېڅ ډول ماتم جواز نه لري؛ ځکه پر دې پېښه تر دیارلسو سوو زیات کلونه تیر شوي دي؛ خو د یوې تاریخي پیښې په توګه اوله دې پیښی نه درس اخستل د همیش له پاره ژوندي دي. راځئ وګورو چې موږ له حسینی عاشورا نه کوم درس اخستی، هسې نه چې فقط یوه ورځ د امام په یاد وژاړو او خپلی سینې ته سوکان ونیسه او بیا د ټول کال په اوږدو کې امام، دهغه کارنامې او دهغه هدف او ارمان شاته وغورځوو. د مولانا ظفر علی خان په وینا چې د امام حسین (رض) د شهادت پېښه موږ ته همدا همیشنی درس راکوي چې سر دی غوځ او په نیزه کې پورته کړل شي هم د یزید وزمه کسانو اطاعت به نه کوې، ایا موږ دا کار کړی دي؟

اهوار، د فرعون پر ...

(د لومړی مخ پاتې برخه)

...چې په نړۍ کې د جنګ جګړې اور بل کړي په داسې حال کې چې حقیقت بالکل برعکس دی. د اسلام سپېڅلی دین اصلاً په نړۍ کې د امن او سوله ییز ژوند د قانونو لپاره نازل شوی. په قرآن کریم کې په څرګندو ټکو کې راغلي دي چې: ((تاسی پر زمکه د فساد کولو هڅه مه کوئ.)) (البقره: ۶۰)

د فساد تر عنوان لاندې ټول هغه کارونه راځي چې د انسانیت په تاوان تمامېږي.

همداراز الله جل جلاله د سوره اعراف په ۵۶ آیت کې داسې فرمايي: ژباړه: ((پر زمکه د امن له راتللو نه وروسته بیا لپاره فساد مه کوئ.))

دا پورتني الهي لارښوونې په مطلق ډول پر زمکه د هر ډول فساد له خپرولو نه ممانعت کړی او هیچاته اجازه نه ده ورکړې چې پر زمکه د فساد د خپرولو هڅې وکړي او انساني ژوند په خطر کې واچوي. الله تعالی پخپل سپېڅلی قانون کې له فساد سره په مطلق ډول کرکه ښکاره کړې او فرمایلی دي چې:

ژباړه: ((بېشکه الله تعالی فساد نه خوښوي.)) (البقره: ۲۰۵)

د اسلام په پاک دین کې د هر انسان وینه، آبرو او مال محترم ګرځول شوی او هر چاته یې د امن په فضا کې د ژوند تېرولو بشپړ حق ورکړی دی لکه چې د سوری مائدې په ۳۲ آیت کې راغلي دي:

ژباړه: ((هر څوک چې یو انسان پر زمکه د فساد او ګناه له ارتکاب پرته ووژني دهغه مثال داسی دی لکه چې ټول انسانیت یې وژلي وي او هر څوک چې یو انسان له مرګه وژغوري دهغه مثال داسی دی لکه چې ټول انسانیت ته یې ژوند وربخښلی وي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول ژوند هم په همدې واقعیت دلالت کوي چې هغه د خپل دین او ځان له دفاع پرته؛ نه پر چا یرغل کړی او نه هم ظلم. ان چې د مکې د فتحې پر وخت ټولو ته د عفوې اعلان وکړ. له دښمنانو سره په جهاد کې د اسلام د سپېڅلی قانون لارښوونه داده چې سپین ږیرو، ماشومانو، ښځو، معیوبینو او په معبدونو کې ناستو عبادت کوونکو ته هیڅ ډول تاوان مه رسوئ. دهغوی څاروي مه وژنئ، د باغونو ونې مه وهئ، فصلونه او عام المنفعه ځایونه یې مه تباه کوئ. د اسلام دښمنو دا غولوونکي تبلیغات هم بې اساسه دي چې وايي مسلمانان نور خلک په زوره مسلمانېدو ته اړ باسي. کوم خلک چې په زوره د چا د مسلمانولو خبرې کوي هغوی د الله تعالی له هغه څرګند او قاطع حکم نه خبر نه دي چې فرمايي: ((لا اکراه فی الدین)) یعنی د دین په قبلولو کې پرچا هیڅ جبر نشته.

همداراز په سورة یونس ۹۶ آیت کې راغلي دي:

ژباړه: ((که ستا رب غوښتي وای چې ټول خلک مؤمنان شي؛ نو خامخا به د زمکې ټولو اوسیدونکو له یوې مخې ایمان راوړی وای. آیا ته خلک اړ باسی چې مؤمنان شي؟ هیڅ ساکښ د الله له حکم پرته ایمان نشي راوړی.))

د همدې سورې په ۱۰۸ آیت کې بیا داسې راغلي دي: ژباړه: ((ای محمده! ووایه چې: ای خلکو! تاسې ته د خپل رب له لوری حق راغلی دی. چا چې سمه لاره خپله کړه: نو بېشکه چې د خپل ځان د ګټې لپاره یې روغه لاره ونیوله او چا چې لاره ورکه کړه؛ نو تاوان یې هم د همدې دی. زه پر تاسی څارونکې نه یم.))

لوی الله د قرآن کریم په الرعد سورة ۴۰ آیت کې محمد صلی الله علیه وسلم ته فرمايي چې: ((ای محمده! پر تا خلکو ته د دین رسول فرض دی او پر ما دهغوی حساب او کتاب.))

د اسلام په سپېڅلی دین کې کله هم د بې ګناه انسانانو د وژلو او ځورولو اجازه نه ده ورکول شوی؛ بلکې په څرګندو ټکو کې یې لارښوونه کړی چې پر زمکه د هر ډول فساد له خپرولو څخه ډډه وکړئ.

د مضمون لیکوال ته پکار و چې لومړی د الله جل جلاله دین مطالعه کړی وای او په دې خبره یې ځان پوه کړی وای چې د الله تعالی دین د انسانیت د خیر ښېګڼې لپاره څه لارښوونې کړي دي؟ له بده مرغه زموږ ډیری مسلمانان له خپل دین نه په مطلق ډول ناخبره او د بل چا د فریب په دامونو کې نښتي دي.

د مضمون لیکوال (اهوار) خدای یوازې مسلمانانو ته منسوب کړی او د مسلمانانو خدای یې ګڼلی دی؛ په داسې حال کې چې الله تعالی د ټولو خدای دی او یوازې ملحدین ترینه انکار کوي او نه یې مني.

اهوار، خدای جل جلاله ته ګوته نیسي چې د انسانانو د وژلو امر همغه کړی دی په داسې حال کې چې الله تعالی د بې ګناه خلکو له وژلو نه کلک ممانعت کړی دی.

اهوار لیکي: موږ خدای ته ضرورت نه لرو او بې له خدایه هم سم یو؛ ځکه چې خدای جګړې پای ته نه رسوي. دا یواځې انسانان دي چې باید نتیجې ته ورسېږي.

په پورتني لیکنه کې اهوار څومره له واقعیت نه سترګې پټې کړي دي او د جنګونو ټوله پړه یې پر خدای او د مسلمانانو پر غاړه اچولی ده. حال دا چې که تاریخ ته وګورو؛ نو د محمد صلی الله علیه وسلم له راتللو نه مخکې او وروسته څومره جنګونه او جګړې شوي دي هغه ټول مرتدانو، مشرکانو او کافرانو ترسره کړي دي. فرعون، نمرود، هامان، ابوجهل او ددوی په څېر نورو ډیرو کفارو چې د نړۍ په سر څومره قتلونه کړي دي هغوی نه مسلمانان وو او نه هم د دین منونکي.

له اهوار نه پوښتنه کېږي چې آیا د میلیونونو انسانانو قاتل هټلر او ملګري یې مسلمانان وو؟ په لومړی او دویمه نړیواله جګړو کې چې څومره د انسانانو قتل عام وشو آیا دهغه ترشا د اسلام او مسلمانانو لاس و؟ انګریزانو چې د مسلسلو وینې تویونو له لارې په نیمه نړۍ پاچاهي کوله ایا هغوی هم د اسلام داعیان وو. امریکا چې په هیروشیما او ناکاساکی کې د اتومي وسلو پر استعمالولو لکونه انسان ووژل ایا هغوی ته هم الله او دهغه رسول محمد صلی الله علیه وسلم ویلي وو چې د جاپانیانو وژل جائز دي؟ فرانسویانو، رومیانو، هسپانویانو او نورو لویې غوښتونکو ځواکونو چې د تاریخ په اوږدو کې لکونه انسانان وژلي دي ایا هغوی د قرآن کریم او نبوي سنتو منونکی وو؟ چنګیزخان، هلاکو خان، ماوزي تنګ، ستالین، لینن، خروش چپ او برژنف چې پخپل وخت د لکونو په شمېر کې انسانان ووژل آیا هغوی د خدای دین منلی و؟ نه! هرګز نه!. د څو لسیزو را په دې خوا چې شمالي کوریا او جنوبي کوریا ترمنځ کوم تاوتریخوالی روان دی آیا دوی هم د خدای په حکم پخپلو کې دښمني کوي؟ په هندوستان کې چې تاملیانو او هندوانو ترمنځ کومې جګړې کېږي ایا هغوی هم د اسلام لپاره جنګېږي؟ په ویتنام کې چې د امریکا او ویتنامیانو ترمنځ په جګړه کې لکونه خلک ووژل شول ایا هغوی هم د اسلام پیروان وو؟ روسانو چې په پولیند، چکوسلواکیا، هنګري، چیچنیا، داغستان، افغانستان او نورو هېوادو کې په خونړیو انقلابونو کې په میلیونو انسانان ووژل، آیا هغوی د اسلام لښکر وو؟ په اوکراین کې چې کومې وینې بهېږي ایا هغوی هم د اسلام سپاهیان دي؟ په فلسطین کې چې د څو شپیتو کلو راهیسې کوم عمومي قتل روان دی ایا هغوی هم د قرآن کریم منونکی او د محمد صلی الله علیه وسلم امتیان دي؟ په برما کې چې بت پرستو بودایانو زرګونه مسلمانان په اور کې کباب او لکونه نور د خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ کړل، آیا هغوی د اسلام مبارک دین پیروان دي؟ په افریقا او امریکا کې چې له تور پوټکو سره کوم له ظلم نه ډک نژادي توپیر وشو، آیا هغوی ته خدای او دهغه رسول دا ویلي وو؟ په هندوستان کې چې د نژادي توپیر له کبله له ټیټ ذات سره کوم سلوک کېږي، آیا ددې اجازه ورته خدای ورکړی؟ دا ټول هغه خلک دي چې نه قرآن کریم مني او نه هم محمد صلی الله علیه وسلم؛ بلکې په مطلق ډول ورسره دښمني لري. دا څومره د تعجب خبره ده چې اهوار ته د نړۍ د ملیونو انسانانو قاتلین په نظر نه راځي او پر هغوی هیڅ تنقید نه کوي؛ مګر برعکس ددې ټولو پړه پر خدای جل جلاله، محمد صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو اچوي.

اهوار فکر کوي چې که چېرته مسلمانان خپل دین، خدای او رسول پرېږدي؛ نو په ګرده نړۍ کې به امن تامین شي؛ خو دېته نه ګوري چې په نړۍ کې د جګړې اور اصلاً غیرمسلمو، مشرکانو او دهریانو بل کړی دی. د نړۍ په ګټو برخو کې همدوی د جنګ او جګړې اصلي عاملین دي. د یو بل په خلاف تباه کوونکی اتومي وسلې، توغندي، الوتکي هایدروجن بمونه، لیزر شعاع او په لسګونو نور ویجاړوونکي وسلې همدوی انبار کړي دي، که دوی واقعاً د نړۍ د امن ټیکداران دي؛ نو بیا د دومره ویجاړوونکو وسلو د جوړولو او ذخیره کولو کوم ضرورت دی؟ له همدې ځایه معلومېږي چې لویې غوښتنې او پراختیا غوښتنې ناروغی په همدوی کې موجوده ده او د نړۍ په هر ګوټ کې همدوی فساد خپور کړی. دنړۍ د لویو ځواکونو ترمنځ چې د پراختیا غوښتنې کومه لوبه روانه ده هغه له هیچا پټه نه ده. امریکا او ناټو په ګډه د خپلو ګټو جنګ پرمخ بیایي او روسیه د خپلو ګټو. دواړه یو بل تورنوي چې پر نړۍ د خپل اقتدار او واک د قائمولو لپاره بې ثباتي ته لمنه وهي چې واقعاً همداسې ده.

حال او مستقبل په همدې خبره دلالت کوي چې د نړۍ امن تل لویو ځواکونو او غیر مسلمو وګرو تالا ترغه کړی. که چېرته پر اوسنیو روانو جریانونو ژور نظر واچوو؛ نو دا به ترلاسه کړو چې ددې ټولو ترشا د پراختیا غوښتونکو غیر مسلمو او ملحدانو لاسونه دي. همدوی دي چې د نړۍ په وروسته پاتې او غریبو هېوادو کې د خپلو ګټو د تأمینولو په خاطر وسلوال روزي، هغوی ته پرمختللې وسلې ورکوي او د حکومتونو د پرزولو لپاره کودتاګانې کوي.

په تاریخ کې به دا شاذ او نادر پېښ شوي وي چې یو اسلامي هېواد پر نورو اسلامي او غیر اسلامي هېوادونو وسلوال برید او خپلواکي یې تر پښو لاندې کړې وي؛ مګر د اسلام له سپېڅلی دین نه منکرو او ملحدو هېوادونو تاریخ په دې ګواهي ورکوي چې هغوی ټول عمر د نورو هېوادو د لاندې کولو او پرهغوی د واک د قائمولو لپاره خونړۍ جګړې کړي دي چې اوس هم جریان لري.

لوی الله د اسلام سپېڅلی دین د قرآن کریم د سوره المائده په ۱۶ آیت کې د «سبل السلام» «د سلامتیا دین» په نوم یاد کړی دی. داسلام سپېڅلی قانون ټول انسانیت ته په امن او سلامتیا کې د ژوند تېرولو توصیه کوي چې د الکافرون د سورې آخري آیت (لکم دینکم ولی دین) په همدې واقعیت ښه دلالت کوي.

الله تعالی له تیري کوونکو سره جګړه په هغه صورت کې فرض ګرځولې چې د کوم هېواد وګړي د مسلمانانو د وژلو لپاره اقدام وکړي. لکه چې د بقرې سورې په ۱۹۰ آیت کې راغلی دي:

ژباړه: ((د الله په لاره کې له هغو خلکو سره وجنګېږئ چې له تاسو سره جنګېږي؛ خو تیري مه کوئ، بې شکه الله پاک تیري کوونکي نه خوښوي.))

د قرآن کریم دا څرګند الفاظ په همدې خبره ښه ګواهي ورکوي چې مسلمانانو ته صرف په هغه وخت کې دخپلې دفاع لپاره د جنګ کولو امر شوی چې څوک دهغوی د وژلو لپاره اقدام وکړي.

همداراز لوی الله جل جلاله مسلمانان د کفارو هغو خدایانو ته د کنځا کولو نه منعه کړي دي چې عبادت یې کوي. لکه چې د الانعام په ۱۰۸ آیت کې راغلي دي: ژباړه: ((او هغو څیزونو ته کنځاوې مه کوئ چې کافران یې پرته له الله نه رابلي. هسې نه چې کافران هم د کینې له کبله په ناپوهۍ الله پاک ته کنځلې وکړي.

لنډه دا چې د اسلام سپېڅلی دین د امن او سلامتیا دین دی او ټولو خلکو ته د امن په فضا کې د اوسېدو دعوت ورکوي. هر ډول ناامني تیري او وینه تویونه که هر څوک یې ترسره کوي د اسلام له څرګندو لارښوونو څخه سرغړونه کوي او دا د الله دښمنان دي.

د نړۍ په سر امن له خدای او دهغه له دین نه د انکار په صورت کې نشي راتلای که چېرته راتلای شوای؛ نو بیا به په کفري نړۍ کې له سره جنګونه نه وو شوي د یو بل په خلاف به پخپلو کې هلاکوونکي او ویجاړوونکي اتومي او زهرجنې وسلې نه وې استعمالې کړې. تراوسه به په کفري او الحادي نړۍ کې په میلیونو انسانان نه وو وژل شوي. د یوبل سیمې به یې نه وې نیولې او د یو بل په خلاف به ښکر په ښکر نه وو شوي.

اهوار او ددې په څېر نور غولیدلي ځوانان که غواړي چې په نړۍ کې امن راشي او د ټولو انسانانو حقوق تأمین شي؛ نو ددې پرځای چې له خدای او د اسلام له دین سره دښمني وکړي د نړۍ له هغو قومونو سره دی دښمني او کرکه وکړي چې تاریخ یې له ظلم او فساد نه ډک دی او اوس یې هم د نړۍ امن له ستر ګواښ سره مخامخ کړی دی. ددې پرځای چې له خدای سره مقابله وکړي او ووایې چې له تاسره خبرې کوم خپل ناتوان وجود ته متوجه شي. آخر داسې یو څوک چې پخپل خلقت کې بشپړ ناتوانه وي او په سلو کې سل د خپل ژوند او مرګ واک پخپل لاس کې ونه لري هغه څنګه کولای شي په یو خورد دماغ سره له الله تعالی سره مقابله وکړي او د مناظرې چلنج ورته ورکړي. که چېرته اهوار او مربیان یې تراوسه پورې د انسان لپاره د یوې سترګې په پیدا کولو نه دي بریالي شوي؛ نو د دومره ستر کائناتو له خالق سره څنګه مناظره کولای شي؟؟!

زه اهوار ته وایم که ته لږ تر لږه پخپل څو پوټه ځان باندې واک نه لرې او ځانته له بوډاتوب او مرګ نه نجات نشې ورکولای؛ نو په کوم قوت د خدای لوی قدرت او حکمت سره مقابله کولای شې؟! فرعون هم له خدای جل جلاله نه د انکار جرئت کړی و؛ مګر انجام یې وګوره چې لاش یې اوس هم د عبرت درس ورکوونکی دی. ددغه مضمون په لیکلو کې چې څومره اهوار ګنهکار دی همغومره د «افغانستان ایکسپرېس» ورځپاڼې مدیر او چلوونکي هم په دې لوی جرم کې برابر شریک دي او ټولو ته یو ډول سزا پکار ده، چې متأسفانه تر اوسه پورې دهغوی د نیولو په اړه کوم ګام نه دی اخستل شوی. د هېواد ولسمشر او نورو لوړ پوړو چارواکو ته پکار دی چې د خپلې ایماني مسؤولیت له مخې ژر تر ژره دغه مرتکبین په سزا ورسوي د افغانستان د مسلمان اولس پر هر زړونه مرهم او خپل مسؤولیت ترسره کړي که نه؛ نو عواقب به یې د همدوی په غاړه وي.

فروغګر

د فساد د مخنیوي لپاره څه کول په کار دي؟

دا چې په تېرو دیارلسو کلونو کې د اداري فساد کچه په هېواد کې څومره ده؟ ددې پوښتنې ځواب د توپیر هغه وحشتناکې جزیرې دي چې په پلازمینه کابل او د نورو ولایاتو په مرکزونو کې تر سترګو کېږي؛ افغان اولس پېژني هغه کسان چې ۱۳ کاله مخکې، کله چې له غرب نه افغانستان ته راغلل د یو فلوکس موټر د پیرلو توان ورسره نه و؛ مګر که نن دهغوی شتمنې، جایدادونه، نقلیه وسایل محاسبه شي، خبره له میلیونو ډالرو اوړي؛ پوښتنه داده چې دوی دا دومره شتمنې له کومه کړي؟ له آسمانه ورته ولوېدل او که له خارجي کړیو سره په معامله کې؟ د افغان اولس پر حقو حقوقو یې خیټې واچولې چې د افغانستان د بیارغونې لپاره زموږ له هېواد سره مرسته شوې وه. څرګنده خبره ده چې همدغه د ګوتو په شمار کورنیو زموږ د هېواد غرونه، ځنګلونه، مځکې، معدنونه او له هېواد سره شوې مرستې له یوې مخې تر ورلې دي او دوسره شی یې پرېښی لکه په ټول غوبې کې یو غدود او دغه غدود ته یې هم لارې لورې جوړې کړې دي. د افغانانو تر ستوني رسېږي، نور نو هغه خواته حرام دي که د تېرېدو لار پیدا کړي؛ زه مخکې تر دې چې د موضوع نورو جزئیاتو ته لاړ شم غواړم د حنفي فقهې پر یو باب باندې په مختصره توګه څو ټکي عرض کړم؛ په حنفي فقه کې تولني ته د هر ډول اضرارو د مخنیوي لپاره نورې لارې چارې هم په ګوته شوې دي؛ خو د «سد ذرائع» په نامه چې کومه موضوع وړاندې شوې، دهغې تطبیق په ټولنه کې د هر ډول فساد د مخنیوي لپاره (۷۵) سلنه اغیزمنه ده. سد ذرایع یعنې دهغو وسایلو اسبابو او محرکاتو مخنیوی او د جرړو پرې کول چې ټولنې ته فساد راوړي؛ مثلاً فقر راولیسي، که چېرې حکومت د فقر د له منځه وړلو لپاره له کلیو راولیسي او بیا ښارونو او دولتي تأسیساتو ته ورشي او هلته چې د فقر کوم لاملونه او اسباب دي. هغه له بیخه وباسي، ښکاره ده چې د فساد په کچه کې به زره پورې ټیټوالی راشي؛ د مثال په توګه، افغانستان اوس یو زراعتي هېواد دی، که چېرې حکومت د هېواد مځکه والو او بزګرانو ته د غلو دانو او باغونو لپاره عصري ماشینونه، د اوبو او برېښنا بندونه وتړي او د دوی د زراعتي محصولاتو لپاره په داخل او خارج کې مارکیټنګ وکړي زیات نه د لسو کلونو په دوران کې به د هر بزګر د کور مخې ته د فقر پر سر یو موټر ولاړ وي. په دویمه مرحله کې د ارضي اصلاحاتو قانون تطبیق کړي چې بې مځکو او کم مځکو خلکو ته د کفاف په اندازه مځکې ورسپېږي؛ نو دا کار سربېره پر دې چې د غلو دانو له پلوه به هېواد خودکفا کړي او پر خپلو پښو ودروي؛ بلکې نور داسې امکانات به هم ور برابر کړي چې خپل محصولات د حکومت له لارې بهرنیو هېوادونو ته صادر کړي. دا کار ددې ګټې لري. یو دا چې بزګران او مځکه وال په اقتصادي لحاظ پر خپلو پښو دروي او بل د هېواد په اقتصاد کې په زړه پورې مثبت بدلون راولي او بدای کوي یې، همدارنګه په ښارونو کې د کار موندنې په ډګر کې پانګوال وهڅوي او همدارنګه په خپله حکومت هم له حکومتي سکټور لویې کارخانې، فابریکې او تولیدي منابع رامنځ ته کړي چې په دې کار سره به زموږ د ټولنې، نه یوازې ښاریان، بلکې هغه کلیوال هم پر کارو لګوي چې په یو مسلک او حرفې کې د تجربې خاوند وي. دا کار هم ددې ارخیزې ګټې لري. هم د دولت اقتصاد پیاوړی کوي، هم د پانګوالو او هم د کارګرانو په دریم پړاو کې حکومت د خپلو کانونو، مالیاتو، ټکسونو، ګمرکونو او تولیدي منابعو له عایداتو نه، یو به بنسټیزو پروژو ته پاملرنه وکړي او بل د مامورینو، معلمینو، استادانو او د اردو او پولیسو ساتونکو او صاحب منصبانو په معاشونو کې به زیاتوالی راولي چې دا کار هم د فساد د مخنیوي لپاره ۷۵ سلنه اغیزمن تمامېږي.

موږ الله تعالی په خورا لویو او پراخو شتمنیو او مالي منابعو نازولي یو. موږ معدنونه لرو، د برېښنا د تولید لپاره لویې لویې سرچینې لرو، د نفتو او ګازو حوزې او د ایستلو لپاره بشري قواوې لرو، که چېرې دغه منابع په کار ولوېږي تجارت مو د اورګادو د پټلو د غزولو له لارې منځنۍ اسیا او د کسپین سمندرګي او چابهار بندر له لارې د نړۍ مارکیټونو او بازارونو ته لار پرانیزي فکر کوم چې افغانستان به د ۲۵ یا شلو کلونو په دوران کې د مخ په انکشاف هېوادونو په قطار کې ودرېږي او زموږ په ټولنه کې به د فقر کچه ۹۵ سلنه راټیټه شي.

کله چې د ټولنې فرد فرد وګړي، په خاصه توګه ځوانان په اقتصادي لحاظ پر خپلو پښو ودرېږي او ددې ترڅنګ د زده کړې کچه به هم پورته تللې وي؛ ځکه دا دواړه سره لازم او ملزوم دي؛ نو ځوانان به وکړای شي په مناسب سن کې واده ته لاسرسی پیدا کړي او په دې توګه به د سترو اخلاقي فسادونو مخه هم ونیول شي.

د «سد ذرایع» یوه بله وسیله د هېواد ملي امنیت دی؛ ددې لپاره چې بهرنې استخباراتي کړۍ زموږ د شتمنیو د لوټولو او د ځان د بډاینې لپاره زموږ د هېواد په دننه کې اجنټان پیدا کوي، هغوی ته غټ غټ معاشونه او امتیازات ورکوي او په دې توګه په ټولنه کې د سیالیو او سیال بازیو بازار تود شي، دوه تنه ماموران به وي دواړه به مثلاً په ۶ بست کې کار کوي، یو به خپله نفقه نشي پوره کولی او بل به له پیسو او امکاناتو سره لوبې کوي، لومړی به له رشوتنه پرته بله لار نه لري چې له سیالانو سره سیالي وکړي، په دې توګه به رشوت ته مخه وکړي، که چېرې زموږ امنیتي ارګانونه همت وکړي او د بهرنیو استخباراتي کړیو د نفوذ او لاسې مخه ونیسي، په دې سره هم په هېواد کې د ډول ډول فسادونو د مخنیوي اسباب برابر شي.

په بل پړاو کې د همدغه «سد ذرایع» په لړ کې فاحش میاشتني امتیازات او دهغو په منځ کې توپیر تنظیم کړي؛ نو له دې لارې به هم د اداري او اخلاقي فسادونو په کچه کې لازم ټیټوالی راشي. د مثال په توګه موږ په هېواد کې داسې اداري لرو چې درست کال وزګار کیني، ډېری یې کال په خوب، میلمستیاو، بهرنیو سفرونو، او... تیروي چې ان سپین ږیري یې لوی لوی زانیان شول او د زنا لپاره دوبۍ، تاجکستان او نورو فحاشو هېوادونو ته سفرونه کوي؛ خو چې د یوې میاشتې معاش یې ګورې د یوې کورنۍ کلنۍ نفقه به پرې جوړېږي که چېرې دغه تفاوتونه هم له منځه لاړ شي؛ نو د فساد په کچه کې به لازم ټیټوالی راشي. (نور بیا)

کربلای افغانستان!

سحر «گلبهاری»

دهم محرم الحرام مصادف است با عاشورای حسین؛ روزیکه سپاه جهل و ظلمت پردست پرورده پیامبر صلی الله علیه وسلم و یارانش تاخت، چراغی را خاموش! صفحه سیاهی را بر صفحات جنایات بشر در تاریخ افزود.

حسین (رض) نواسه پیامبر صلی الله علیه وسلم گلی از گلستان نبوت، به دست لشکر یزید پرپر شد و سرش بر نوک نیزه بلند!!

آیا میدانید؟

با نواسه پیغمبر صلی الله علیه وسلم و اهل بیتش چه جفایی روا داشتند؟!

آنروز دیدگان بشریت از اعمال زشت سپاه جهل و ظلمت که در برابر آنها انجام داند توان دیدن نداشت.

روزیکه ندای تکبیر حسین (رض) و یارانش در دل صحرای کربلا پیچید و خورشید چشمانش را بست تا روز مظلومیت شهدا را نبیند.

آری!

یزید فرزند حضرت معاویه (رض) چنین جنایتی را روا داشت، یزید کافر نبود، بل ظالم و خشن ترین چهره استبداد در جامعه اسلامی آنروز محسوب می شد. سپاه او ظلم و جنایت تاریخی را در حق حسین (رض) و اهل بیتش انجام دادند، آنها را مثله کردند، سر های شان را مانند توپ به پا زدند و سر نیزه ها کشیدند و....؟!

گویند حسین به خون خویش غلتیده
وز جور ستم، با دل ریش غلتیده
مرثیه بخوان به یاد یاران حسین
هفتاد ودوتن، در پس و پیش غلتیده

آری! حسین (رض) و یارانش یکجا مظلومانه جام شهادت نوشیدند؛ اما داعیه حق و عدالت خواهی خاموش نشد و علم مبارزه به ضد استبداد و استکبار تا جهانست بر افراشته خواهد بود و خط حسین (رض) تا مادام قیامت با خون قرمزین روشن و پر رهرو خواهد ماند.

حادثهٔ کربلا، در تاریخ باربار تکرار شده و تکرار خواهد شد؛ جدال میان مبارزهٔ حق طلبانه و استبداد نظام تا جهان است و بشر است، ادامه یافته و بندگان مخلص به تکرار در ابتلا و آزمون قرار خواهند گرفت.

آنچه ما ازین روز تاریخی می آموزیم بخصوص درروشنی آموزه های دینی، ثبات و استقامت در برابر طاغوت زمان است که نباید فراموش مان شود، صبر شکیبایی؛ اما مبارزه مستمر، استادان در برابر نا برابری ها و بی عدالتی ها!

در این روز دو چهرهٔ برجسته می شود، چهرهٔ مظلومانهٔ حسین (رض) و یارانش که با عقیده راسخ در برابر ظلم و استبداد شعار تکبیر و نفی طاغوت سردادند.

و از جانب دیگر چهره کریه استبداد و ظلم که سیاهی می کرد و زمین را از خون مظلومان رنگین ساخت!!

دریغا!

لشکر یزید بر نوه پیامبر صلی الله علیه وسلم رحم نکرد، چگونه امروز به پیروان این راه رحم کنند و از خود عاطفه نشان دهند؟!

یزیدیان امروز متأسفانه؛ در وجب وجب جهان اسلام، خون مسلمانان را به زمین می ریزند، و برای نابودی آنها کمر بسته اند: از الجزایر، لیبیا، مصر، فلسطین، تا سوریه، عراق، پاکستان، افغانستان و... جهان استعماری دست بهم داده تا به سر نوشت مسلمان ها حاکم شود و هر روز ما را، عاشورا بسازند و وجب وجب خاک های اسلامی را کربلا!

خونِ همه کس، غیر مسلمان خون است
از هندو و گبر، هم یهودان خون است
خونِ کافر، به زر برابر دانند
خونِ مؤمن، چقدر ارزان خون است؟!

حقوق بشر با خون و جان مسلمان ها کاری ندارد!

داعیان دروغین حقوق بشر، کر اند و کور!

دیگر خون مسلمان ارزشی ندارد!

اگر یک عسکر یهودی ناپدید شود، باید هزاران مسلمان زیر بمباران های وحشیانه اسرائیل جان بدهند و همه هست و بود شان نابود شود؟

درد آورتر از همه، سکوت نظام های بنام اسلامی در کشور های مسلمان نشین!

برادرم میدانی!

در کشور ما خون افغان مسلمان به این نام و آن نام ریختانده میشود.

ما بدون اینکه بخود آییم، که این جنگ خانمانسوز چگونه بر ما تحمیل شده است؛ متأسفانه هر روز بجان هم افتیده ایم، وجب وجب و قدم قدم خاک ما به کربلا مبدل شده است!

ملت مان که در برابر آزمون های تاریخی بار بار سربلند و فاتحانه قد افراشته بود، اکنون نباید قامت خم کند.

این خطه ما که مهد شیران بوده
مهد سپه وجای دلیران بوده
احمد شه و محمود و سپه دارانش
هر فاتح ما، پی اسیران بوده

ملت مظلوم و مجاهد افغانستان اکنون انتظار دارد تا دولت جمهوری اسلامی و حکومت وحدت ملی؛ با طرح عالمانه و تلاش های جدی، آنچه را که دیروز در پیکار های انتخاباتی، وعده داده بودند بآنها وفا کنند. برای استقرار صلح و تأمین امنیت، جلو این خونهایی که سالهاست به زمین می ریزد بگیرند. کشور ماترا از آشوب خانمانسوز و ویرانگر نجات دهند و دست اندرکاران نظام به داد یتیمانی برسند که هر روز در کربلای کشور مان پدران شانرا از دست میدهند و چه بسا پدران و مادرانیکه در ماتم فرزندان شان می نشینند!!

این میهن ما کربلای ثالثیست
هم غزنه و پکتیا، کربلای ثالثیست
هلمند و کنر، بخاک و خون تر گشته
کابل همه جا، کربلای ثالثیست

به امید روزیکه صلح واقعی و پایدار در کشور ما استقرار یافته و مصیبت جنگ رخت بندد که همه چشم به انتظار عدالتیم.

باز هم غوغا بر سر کارکرد ...

(ادامه از صفحه اول)

... متصرف ساختند و بالاخره بدون آنکه انتخابات دور دوم اجرا شود، کمیسیون انتخابات آقای کرزی را بحیث رئیس جمهور اعلان کرد و دلیل هم آن بود که او رقیبی ندارد و یگانه کاندید باقی مانده در عرصهٔ انتخابات است.

آقای حامد کرزی از همان روز علیه خارجیها برآشفته شد که به ادعای او عمداً او را تضعیف کردند و دولت او را بی اعتبار جلوه دادند. البته انصافاً که انتخابات ۲۰۰۹ هم بدون مداخلهٔ خارجیها بدون تقلب نبود؛ ولی اینکه چه جناحی درین تقلب ید طولا داشت نیازی به یک تحقیق بی طرفانه داشت که این تحقیق صورت نگرفت. آقای کرزی بارها و بارها در سخنرانیهای خود از مداخلات به ادعای او غرض آلود خارجیها شکایت میکرد که دور دوم ریاست جمهوری او را عمداً از روی یک پلان بدنام و دولتش را ضعیف جلوه دادند و این بخاطر آن بود که آنها بتوانند به آسانی خواستهای خود را بالای او بقبولانند؛

اما انتخابات ۲۰۱۴ با انتخابات ۲۰۰۹ تفاوت آشکار داشت؛ زیرا رئیس جمهور باوجود شکایات برخی از اعضای ولسی جرگه و جامعهٔ مدنی، وجود دو نفر خارجی در کمیسیون رسیدگی به شکایات انتخاباتی را منتفی دانست و کمیسیونهای انتخابات و رسیدگی به شکایات را کاملاً افغانی ساخت، بناءً امید آن میرفت که این بار اولاً سرو صدا نباشد و اگر باشد هم بحدی نباشد که جریان انتخابات را با چالش مواجه سازد و این پروسه در حدود شش ماه به درازا کشانیده شود.

خیر هرآنچه بود گذشت و همهٔ ملت شاهد بود که چه گذشت؛ ولی بقول شاعر:

رسیده بود بلایی؛ ولی بخیر گذشت

انتخابات ملغی اعلان نشد گرچه با تأخیر ولی هر دو تیم پیشتاز بالاخره از مواقف خود تنازل کردند و نتیجهٔ آن تشکیل حکومت وحدت ملی شد. که به این ترتیب همهٔ ملت بنحوی در دولت حضور یافت. گرچه بعضی ها بنابر دلایل مختلف هنوز هم دلهره نشان میدهند که نشود مشکلاتی باز سر سربیفرازد؛ ولی من فکر میکنم که هر دو تیم حوصله مندی خود را هم حفظ خواهند کرد و فرصت بدست آمده را ضایع نخواهند ساخت و ضمناً این دو تیم نباید فکر کنند که تمام خطرها برطرف شده است؛ بلکه هستند قوتهایی که برای بروز اختلافات در بین دو تیم حاکم دقیقه شماری کنند و در پی آن باشند که عمر این دولت کوتاه باشد تا در کوتاه مدت زمینهٔ مجدد انتخابات فراهم گردد و آنها بتوانند بخت خود را بیازمایند.

دعای ما این است که تمام آرزوهای باطل، باطل ثابت گردد و دولت موجود بتواند به همکاری هر دو تیم پیشتاز که تیمهای دیگر انتخاباتی را هم با خود دارند دورهٔ دولت را به موفقیت سپری کنند و خدمتی بکنند که گذشته های تأسف بار را تلافی کنند. آنچه در سیزده سال گذشته بر سر ملت و کشور ما گذشت از هر ناحیه تأسف بار بود، هر روز شکایت از فساد اداری، هر روز شکایت از افزایش کشت و تولید و قاچاق مواد مخدر، هر روز شکایت از غصب زمینهای دولتی و غیر دولتی، هر روز شکایت از بیعدالتی و هر روز شکایت از ده ها نابسامانی دیگر. اگر هوس هم بود همینقدر بس است. باید دولت توانایی آنرا در خود پیدا کند که دیگر واقعاً به مشکلات ملت رسیدگی کند. افغانستان کشور همهٔ افغانهاست. دربنجا تمام افراد ملت حقوق یکسان دارند. باید به مشکلات همه رسیدگی شود و همهٔ احاد و افراد ملت خود را در آئینهٔ قد نمای دولت ببینند. متأسفانه در سیزده سال گذشته گپ بجایی رسیده بود که حتی سلام فارغین صنوف دوازدهم را هم کسی وعلیک نمیگفت. متأسفانه کیفیت مؤسسات تحصیلی آنقدر پایین آمد که حتی املا و انشای فارغان پوهنتون ها قابل حساب نبود. حتی نطاقان رادیوها و تلویزیونها بدون استثناآت بی سواد محسوب میشدند و حتی یک متن از روی آن را علی الاکثر غلط میخواندند و این نقیصه تا هنوز هم پا برجاست. افرادی حتی در پوهنتونها بحیث استاد ایفای وظیفه میکنند که شایستگی تدریس در یک مکتب ثانوی را هم ندارند خوب البته ما استادان قابل افتخاری هم داریم که جای مسرت است؛ ولی استادانی را هم داریم که باید بحال محصلین بیچاره تأسف خورد.

خوب انتخابات سال ۲۰۱۴ گذشت. گو مگوهای انتخاباتی هم گذشت و سرنوشت انتخابات ریاست جمهوری معلوم شد؛ ولی نتایج شوراهای ولایتی که بتاریخ ۱۶ حمل (۱۳۹۳) همراه با انتخابات ریاست جمهوری صورت گرفته بود. بتاریخ ۱۳۹۳/۸/۴ اعلام گردید که سرو صداهای زیادی را به همراه داشت. بخصوص عکس العمل در مشرانو جرگه درین رابطه زیاد بود. شاید یک دلیل آن هم این باشد که اعضای منتخب مشرانو جرگه از طریق شوراهای ولایتی به مشرانو جرگه راه می یابند.

حال تأثر عام این است که کمیسیون انتخابات و رسیدگی به شکایات نتوانستند وظایف خود را بنحو احسن اجرا کنند. از همین جهت انتخابات با مشکلات مواجه گردید. فلهذا باید در کمیسیون های مذبور اصلاحات بمیان آید. بخصوص رئیس اجرائیوی دولت در دیدار با سران قومی یک ولایت این حرف را بصراحت یادآوری نمود و قبلاً هم اشاراتی به این موضوع داشت؛ ولی منسوبین کمیسیون انتخابات که کمشنران ماهانه هشت هزار دالر معاش میگیرند و صد هزار افغانی هم کرای خانه، و رئیس کمیسیون انتخابات دو صد هزار افغانی کرای خانه و داشتن امتیازات دیگر مانند موترهای زرهی وغیره، استدلال میکنند تا زمانی که قانون تغییر نه یابد کسی حق ندارد آنها را از وظایف شان سبکدوش کند. البته تا بحال رئیس جمهور در مورد ابراز نظر ننموده است و قانون هم در زمینه گنگ است که شورای ملی هم خود درین زمینه مسؤول است؛ زیرا این قانون را همین شورای محترم ملی تصویب نموده و بعداً به توشیح رفته است. شورای ملی چرا این احتمالات را درنظر نگرفته که قبول کنیم رئیس جمهور افرادی را بنابه هر محاسبه یی به کمیسیونهای مذکور آورد. اگر آنها بتوانند وظایف شان را بصورت درست انجام دهند خیلی خوب؛ ولی اگر نتوانند وظایف خود را بدرستی انجام دهند در آن صورت به این معضله چه راه حلی را میتوان جستجو نمود؟ دیده شود دولت برای حل این کورگره چه راهی در پیش میکرد؛ ولی قانون، مسوده ها و مقرره ها درین رابطه مستلزم بازنگری است و باید درین راستا اقدامات قانونی صورت گیرد. اکنون بعد از انتخابات ریاست جمهوری اینک نتایج انتخابات شوراهای ولایتی همراه با سرو صداست؛ ولی اگر در کمیسیونهای مزبور تغییراتی آورده نشود، طبعاً انتخابات ولسی جرگه جنجالیتر از انتخابات ریاست جمهوری و شوراهای ولایتی خواهد بود.

شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان سراسري ارګان

خبرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالجلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي - بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مېنه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

احمد خالد (فیاض)

دفاع از دین ما را کامیاب می سازد

امور فکر و خلاف شرع در اجتماع ما سرایت کرده عدهٔ از مردم به منکرات آلوده شده اند، هر انسان مسلمان مسؤولیت دارد تا برای جلوگیری از کارهای ناپسند به پا ایستاده از دین دفاع و منکرات را نابود سازد، اگر از کارهای ناشایسته و امور منکر جلوگیری نگردد همهٔ مردم به مصیبت و پیامدهای ناگوار آن سر دچار و مشکلات روز افزون میگردد.

هر قومی که راه طغیان و سرکشی را اختیار نموده بر مقدسات دینی تعرض و بی باکی نمایند بالای شان عذاب نازل میگردد، به مصیبت های پیهم مبتلا و اختلاف و ناهمگونی در میان شان حکومت می کند، سکوت در برابر منکرات سبب تشدید عذاب و راه را برای تباهی همهٔ مردم باز می سازد.

برای اینکه از مصیبت ها نجات و از نزول عذاب در امان بمانیم لازم است که جلو منکرات و امور خلاف شرع را بگیریم، مردم را در راه حق راهنمایی و دست بدکاران را کوتاه کنیم، امور معروف را اشاعه داده مردمان مفسد، بداخلاق و ملحد را آزاد نگذاریم تا به فساد، بداخلاقی، انحراف و الحاد دست زنند، علماء و دانشمندان حقایق ملموس جامعه را بدون خوف و هراس بیان کنند و با جرئت کامل اسلامی بر متولیان اموری که نسبت به دین و شعایر دینی بی احساس و بی تفاوت اند فشار بیاورند و از آنها قاطعانه درخواست کنند تا همه نیروی حکومتی را برای حراست و پاسداری دین بگمارند و صاحبان قدرت با استفاده از قدرت دست ناپاک بدکاران و ملحدین را بگیرند و حدود و احکام شرعی را تطبیق کرده ممثلین اصلی آرمان های اسلامی ملت مسلمان افغان باشند هم چنان عامهٔ مردم مواظب جامعه باشند و در صورت به وجود آمدن امر منکر و خلاف شرع شجاعانه در سنگر دفاع از حق بنشینند و به اعتراض و انتقاد دست زده تطبیق قانون و تأمین عدالت را درخواست کنند.

بی تفاوتی در برابر احکام شرعی مردمان مفسد را جسورتر میسازد تا با جسارت بر دین اعتراض و از جادهٔ حق بیرون شوند، در چنین حالت در اجتماع رخنه ها پیدا شده ولگردان و بی دینان برعلاوهٔ آنکه خود شان به ولگردی و بی دینی رو می آورند برای بی دین ساختن دیگران هم کوشش می کنند، برای اینکه اوضاع کنترول و جلو بی دینان گرفته شود باید با قاطعیت کامل در تطبیق حدود شرعی و احکام دین تلاش مجدانه صورت گیرد تا زمینه ظهور بی بندو باری‌ها مسدود و مردمان مفسد در انجام دادن مفاسد جرئت نکنند.

بی توجهی های دوامدار نتیجه نامطلوبی را بارآورده که حتی یک نویسندهٔ بی دین در روزنامهٔ ایکسپریس در شأن الله متعال گستاخی کرده است این مرد گستاخ در شهر کابل که پایتخت کشور است به این کار دست زده است، جرئت این شخص بی دین نشان دهندهٔ آنست که بی دینان در مراکز فرهنگی کشور وجود دارند و آنها تلاش می کنند تا با ضدیت کین توزانه شان، با اسلام و مسلمانان دشمنی و مقابله کنند.

نشر مقاله توهین آمیز در روزنامه ایکسپریس نشان می دهد که دست های غرض آلود دشمنان خارجی و داخلی در کشور ما وجود دارد، آنها آرام نیستند فعالیت های خصمانه ضد دینی را به راه انداخته، هزینه های هنگفت مالی را در دست دارند و درین راه به مصرف می رسانند، پس اگر نویسنده این مضمون و مسؤولین این روزنامه محاکمه نگردند و به جزای خود نرسند دروازه فعالیت های ضد دینی و گرایش های غیر اسلامی باز و با حمایت و پشتیبانی نیروهای مستبد الحادی، گستاخان به گستاخی شان ادامه داده رنج و اذیت مسلمانان را بیشتر می سازند؛ اما اگر حدود شرعی و اصول و مقررات دینی بر مرتدین و مفسدین تطبیق شده از اسلام و شریعت پاسداری شود هیچگاه مردمان کج اندیش و بی دین در آینده جرئت نمی کنند که در شأن اسلام گستاخی نموده از حدود بیرون و به نشر مقالات توهین آمیز بپردازند.

در چنین حالتی که افغانستان قرار دارد، بهبودی و سرفرازی مردم ما در آن است که راه تقوا و پرهیزگاری را اختیار نمایند از فساد و بی بندو باری اجتناب کنند و برای بدکاران اجازه بدکاری را ندهند کوشش نمایند تا از شعایر دینی پشتیبانی نموده با تبه کاران مبارزه خستگی ناپذیر کنند جلو هر نوع فساد را بگیرند و در اشاعه و گسترش امور معروف برنامه های سازنده را در دست گیرند. یکی از مسؤولیت های مهم و اساسی دولت موجود حراست و پاسداری از دین مقدس اسلام است، زیرا این ملت، ملت مسلمان و افغانستان کشور اسلامی است و رئیس جمهور اولین سفر خود را از ادای عمره و زیارت بیت الله شریف آغاز نموده است و برای پر رنگ ساختن کمپاین های انتخاباتی خود تعداد از ریش سفیدان و مدعیان حاکمیت اسلام را در کنار خود گرفته به آنها وعده سپرده است که من آرمان اسلامی شما را تحقق می بخشم، برعلاوه همه آنچه گفته شد، رئیس دولت به علمای این کشور تعهد کرده است که فاصله میان مدارس، علماء و ارگ را از میان برمیدارم، همه این گفته ها و وعده ها باید عملی شود و خواست علمای برحق که تحقق آرمان های دینی و حفاظت و حراست از دین است برآورده شود و برای ملحدین و مرتدین اجازه داده نشود تا با گستاخی های شان سبب اذیت و آزار مسلمانان گردند، مدارس شرعی تقویه و از علماء دفاع گردد به هر خواست شرعی مسلمانان بدون مکث و تاخیر لبیک گفته شود، مراکز الحاد و فحشاء مسدود و همه کسانی که با اسلام دشمنی می کنند براساس احکام صریح اسلام محاکمه شوند، کاری شود که ملت مسلمان افغان سربلند و شعایر دینی عملاً زنده و مردم به آرمان های دیرینه اسلامی شان دست یابند.

اگر به وعده ها عمل نگردد و هر مسلمان مقتدر و با نفوذی که در جریان کمپاین ها به نفع تیم بر سر اقتدار فعلی تلاش کردند، سکوت و خاموشی را اختیار نمایند، معنی آنرا دارد که هرکس برای رسیدن به قدرت از احساسات پاک اسلامی مردم به نفع خود بهره برداشته التزام و پابندی به هیچ وعده ندارد، این هم معنای تقلب و تخلف را دارد.

بیایید قاطعانه از دین دفاع و به هیچ چیز دیگری کمتر از دین راضی و قانع نباشیم و در مقابل گستاخان چون سد آهنین ایستاده شویم، جامعه را از وجود مکروب ها پاک کرده با افتخار زندگی کنیم مراکز فحشا و بی دینی ها را نابود نمائیم تا هیچ فرد ناپاک و بی عقیده جرئت نکند که برخلاف مقدسات دینی چیزی بگوید یا چیزی بنویسد و یا به کارخلاف شرع اقدام نماید، اگر ما و متولیان امور کشور به این حقیقت توجه کرده در تعمیل آن مخلصانه عمل کنیم از همه بدبختی ها نجات پیدا می کنیم، کشور ما آزاد و متکی بر خود و از دست برد اجانب و بیگانگان سالم باقی می مانیم، اخوت و صمیمیت در میان مردم رشد و تقویه میگردد، صدق و راستی حاکم شده عدالت تأمین و کشمکش ها از میان برداشته می شود.

له هغو ساختماني شرکتونو ...

په هېواد کې څو مره انجنیران، د انجنیرانو مرستیالان او په کومه کچه تخنیکي افراد موجود دي.

احمدزي دې ته په اشارې سره، چې حکومت به د انجنیری په برخه کې د کادرونو د روزلو لپاره لا ډېره پانګونه وکړي، وویل چې تر راتلونکي کال پورې زموږ د انجنیری پوهنځي باید تر ممکني لوړې درجې پورې ارتقا وکړي.

ولسمشر وویل، په ساختماني چارو کې د خپل بشري خواک په اندازه باید پوه شو او دا کار د دولتي او خصوصي ساختماني سکتور له همکاری پرته ممکن نه دی.

ډاکټر محمد اشرف غني احمدزي د افغاني ساختماني شرکتونو له خوا د قراردادونو ترلاسه کولو ته د اشارې په ترځ کې وویل، چې د افغانستان د ساختماني شرکتونو مسوولین باید وکولای شي چې له اړوندو مراجعو څخه اصلي او یا د لومړي لاس قراردادونه ترلاسه کړي.

ولسمشر په دې باندې په ټینګار سره، چې ده په خپله ټول موجود قراردادونه تر ارزونې لاندې نیولې، د ساختماني سکتور له چارواکو یې وغوښتل، چې خپل ظرفیت ښکاره کړي او د یوې بنیادي طرحې له مخې د ساختماني سکتور ستونزه حل کړي.

ډاکتر احمدزي دې ته په اشارې سره، چې یو شمېر ساختماني شرکتونه د بیسو په بدل کې په نورو شرکتونو باندې قراردادونه پلوري، وویل چې له هغوی سره به جدي او قانوني چلند وشي.

ده زیاته کړه، د ساختماني موادو پر تولید باندې باید پانګونه وشي او افغانستان د ساختماني موادو په تولیدوونکي هېواد بدل شي.

نوموړي د ساختماني سکتور اهمیت او رول ته د اشارې په ترځ کې وایي: "د یوه پیاوړي ساختماني سکتور له جوړېدو پرته دولت نه شي کولای خپلې پیسې مصرف کړي او د بودیجې د نه مصرف دلیل هم د دولت او خصوصي سکتور ترمنځ د ښې همغږۍ نه شتون دی، خو موږ غواړو چې هغه حالت ته ورسېږو، چې بودیجه په موثر ډول مصرف شي."

ده څرګنده کړه، چې د ملي وحدت حکومت حاضر دی، چې له ساختماني سکتور سره یو بنیادي میثاق ته ورسېږي.

ولسمشر د دولتي او خصوصي ساختماني شرکتونو له چارواکو وغوښتل، چې د ساختماني سکتور د حالت د ښه والي لپاره بحثونه په لاره واچوي او په راتلونکي غونډه کې ورته یوه منسجمه طرحه وړاندې کړي.

د خبرپاڼې په حواله، په دې کتنه کې د ښار او کور جوړولو وزارت سرپرست حسن عبداللهي هم خبرې وکړې او د دغه وزارت د کړنو او ستونزو او همداراز له ساختماني خصوصي شرکتونو سره د کاري اړیکو په اړه یې معلومات وړاندې کړل.

سرچینه کاږي، د دغې کتنې په پای کې د ساختماني شرکتونو رییسانو په بېلابېلو برخو کې خپلې ستونزې له ولسمشر احمدزي سره شریکې کړې او په هېواد کې یې خصوصي ساختماني سکتور ته د دولت د لازیاتې پاملرنې غوښتنه وکړه.

موثریت فعالیت های مشاورین...

پرداخت معاشات مشاورین خارجی در وزارت ها و موسسات همکار شان صورت می گیرد چگونگی سودمندی حضور آنان باید مورد بررسی قرار گیرد:

"البته وزارت ها ضرورت به همکار و مشاورین خارجی دارند که این مساله باید همزمان باشد با این که ظرفیت هر روز در داخل وزارت های سکتوری ساخته شود.

یکی از مسایلی که باید در این راستا بررسی صورت گیرد همین است که چقدر موجودیت مشاورین خارجی موثر است و چقدر کمک کرده به ایجاد ظرفیت."

این اظهارات در حالی صورت می گیرد که به اساس گزارش ها میلیارد ها دالر پول کمک به افغانستان، صرف پرداخت معاشات مشاورین خارجی می شود.

گفته می شود که در افغانستان بیش از پنج هزار مشاور خارجی کار می کنند.

در همین حال شماری از کارشناسان اقتصادی کارکرد مشاورین خارجی در افغانستان را غیر موثر خوانده و می گویند با فعالیت آنان هیچ نوع سیاست اقتصادی کار آمد در این کشور پیاده نشده است.

سیف الدین سیحون یکی از این آگاهان در صحبت با رادیو آزادی گفت، کارهای که در مشوره با مشاورین خارجی صورت گرفته است نتیجه، چندانی نداشته است:

"متاسفانه در مجموع سیاست گذاری های که توسط مشاورین خارجی صورت گرفته هیچ نوع سیاست اقتصادی کار آمدی پیاده نشد بیشتر پروژه ها زود ثمر و بازگشت پذیر بودند در جهت تشکل منافع ملی شکل نگرفتند بیشتر فعالیت ها در پروژه های خدماتی بودند و ظرفیت سازی نیز این مشاورین نهاد سازی نکردند."

آگاهان تاکید می کنند که حکومت ابتدا باید نیازمندی هایش را اولویت بندی کند و در صورت ضرورت از مشاورین خارجی در بخش تطبیق آن کمک بخواهد.

آنان می گویند، ممکن در برخی موارد چون شهر سازی، صنایع نظامی و همکاری های تخنیکی به مشاورین خارجی نیاز وجود داشته باشد.

اما به باور آنان، در سایر بخش ها افغان های وجود دارند که می توانند منابع اقتصادی افغانستان را مدیریت کنند و عامل فعال در توسعه اقتصادی کشور باشند.

نگرانی ها در مورد استخراج ...

غیرقانونی استخراج و قاچاق می گردد:

"در نقاط مختلف افغانستان ذغال سنگ به پیمانه بسیار بزرگ به صدها تن و هزارها تن قاچاق می شود، ولایت هرات، بامیان و بسیاری جاه ها است چه از طرف مردم محلی و یا زورمندان به شکل غیر قانونی استخراج می شود و قاچاق می شود."

آقای سنگریار همچنان گفت که در برخی از مناطق کشور صوف های شخصی حفر گردیده که هر یک از مالکان آن نظر خواست شان، ذغال سنگ را استخراج و آنرا قاچاق می نمایند.

وی میگوید که همین مساله سبب کمبود ذغال سنگ و بلند رفتن قیمت آن درکشور می شود.

در این حال مردم نیز شکایت دارند که بخاطر قیمت بودن نرخ مواد سوختی در بازار نمی توانند برای گرم کردن خانه های شان در فصل زمستان مواد سوختی مورد ضرورت خود را خریداری نمایند.

این در حالیست که برخی از عمده فروشان ذغال سنگ در کابل به رادیو آزادی گفتند، که آنان نیز این مواد را به قیمت بلند از مردم محل دره سوف خریداری و بالای مردم به فروش می رسانند:

"سنگ ذغال فعلاً از دره سوف است، مردم غیره از انجا می کشند، غیر قانونی است، دولت باید صحیح ذغال استخراج کند از آنجا و به دسترس مردم قرار دهد، فعلاً قیمت ذغال بلند است، این ذغال به قیمت خوب به پاکستان صادر می شود."

وی از حکومت جدید افغانستان خواست تا در این زمینه اقداماتی جدی را روی دست گیرد و اجازه ندهد که قبل از تقویت بازارهای داخلی ذغال سنگ به خارج صادر شود.

این در حالیست که مقامات وزارت معادن و پطرولیم افغانستان ضمن رد این موضوع می گویند، که کمیت ذغال سنگ که استخراج می شود نه تنها که نیاز مردم افغانستان را مرفع می کند، بلکه زمینه صادرات را به خارج از کشور نیز فراهم می نماید.

بدخشان کې ۱۷ پولیس ...

پولیسو د موندلو لپاره په سیمه کې عملیات روان دي.

د نوموړي په وینا په دغو عملیاتو کې د دولت مخالفینو ته هم درنه مرګ ژوبله اوښتي او له سیمې څخه په تیښتېدلو خو تر دې دمه د مخالفینو د تلفاتو په هکله کره شمېره نشته.

لعل محمد احمدزي وایي، د حکومت وسله والو مخالفینو له مختلفو لوریو د پولیسو پر پوستو بریدونه وکړل او د پولیسو تجهیزاتو ته یې اور ورته کړ.

د پولیسو په وینا، مرستندو خواکونه سیمې ته استول شوي او وایي، اوس هم عملیات روان دي.

د ښاغلي احمدزي په وینا لس تنه پولیس له دغه برید وروسته وسله والو طالبانو له ځانه سره بیولي دي.

د افغانستان د کورنیو چارو وزارت منبي او وایي، وروسته له هغې چې د دولت مخالفینو د بدخشان ولایت په وردوج ولسوالی کې د پولیسو پر څو پوستو برید وکړ یو شمېر پولیس لادرکه شوي دي.

که څه هم سیمه ییز چارواکي وایي، چې د برید په پایله کې څلور پولیس وژل شوي او یو شمېر د طالبانو له خوا برمته شوي دي.

خو د پلازمېنې کابل چارواکي د ۱۷ تنو پولیسو د لادرکه کېدو خبر ورکوي او وایي، چې د دغو پولیسو د بیا موندلو په موخه یې عملیات پیل کړي دي.

مخالفو وسلوالو د دغې پېښې مسولیت پر غاړه اخیستی او وایي، د پولیسو په څلورو پوستو یې بریدونه کړي، چې څلور پولیس یې وژلي دي او یو شمېر نور یې له ځانه سره بیولي دي.

له دې وړاندې هم د بدخشان په وردوج ولسوالی کې نښتې شوې او دغه ولسوالي د افغان حکومت مخالفو وسله والو تر برید لاندې راغلې.

خو یوه ځايي چارواکي، چې نه یې غوښتل نوم یې یاد شي، د بي بي سي ځايي خبریال ته ویلي، چې طالبانو ۱۶ پولیس یرغمل کړي دي.

طالبانو د دغې پېښې مسولیت پر غاړه اخیستی او وایي، د پولیسو په څلورو پوستو یې بریدونه کړي، چې وایي، څلور پولیس یې وژلي دي او یو شمېر نور یې له ځانه سره بیولي دي.

له دې نه مخکې هم د بدخشان په وردوج ولسوالی کې نښتې شوې او دغه ولسوالي د افغان حکومت مخالفو وسله والو تر برید لاندې راغلې.

یاده ولسوالي ییچلی جغرافیایي موقعیت لري.

امریکا او متحدین یې باید د امنیتي ...

او متحدین یې له افغانانو سره د امنیت او ثبات په راوستلو کې مرسته وکړي."

د ښاغلي اکرام په خبره د امنیتي او دفاعي سند د متن په اړه د بحث په خاطر د بهرنیو چارو وزارت چارواکي او د ملي امنیت د شورا سلاکار دې جرګې ته غوښتل شوي.

د دغه سند له مخې به له ۲۰۱۴ کال وروسته ۹۸۰۰ امریکایي سرتېري به افغانستان کې پاتې کیږي چې بیا به په ورپسې کلونو کې کرار کرار له دې هیواده وځي.

د ولسي جرګې یو شمېر غړي وایي؛ که چېرته امریکا د یاد سند په اساس خپلې ژمنې عملي نه کړي؛ نو د تصویب رایه به ورنه کړي.